امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات

هفته نامه
# مدیریت حوادث

۷ الی ۱۲ سرطان ۱۴۰۴

شماره یکصدو چهارده



## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د میشن‌اېسټ موسسې تر منځ د شېږ سوه شپږ اتیا زره او اووه سوه څلور دېرش (۶۸۶،۷۳۴) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د میشن‌اېسټ نړیوالې موسسې د افغانستان د دفتر له مسؤل محترم سبراتادی سره د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۳ نېټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

په دې غونډه کې ترابي صاحب د یادې موسسې د تېرو فعالیتونو قدرداني وکړه او ټینګار یې وکړ، چې موسسې باید د بشری مرستو د دوام تر څنګ، په تدریجي ډول د دغو مرستو بڼه په بنسټیزو پروژو بدله کړی. نوموړی د خلکو د اړتیاوو کچې په یادولو سره د دې بهیر پر چټکتیا ټینګار...

ادامه در صفحه۲

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله په لارښونه د لوګر ولایت سېلاب ځپلو سیمو څخه لیدنه وکړه او زیانمنو ته د رسېدنې لپاره یې د مرستو پر برابرولو ټینګار وکړ



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د دې ادارې د اطلاعاتو او نشراتو له رئیس، محترم حافظ محمد یوسف حماد سره یو ځای، د وروستیو سېلابونو له امله د زیانمنو خلکو...

ادامه در صفحه ۴

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د میدان وردک ولایت په نرخ ولسوالۍ کې له سېلاب‌ځپلو سیمو څخه لیدنه وکړه او له زیانمنو سره یې خواخوږي څرګنده کړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۴ نېټه د میدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالۍ د ښینزیو درې او عمرخېل سېلاب‌ځپلو سیمو څخه لیدنه وکړه. دا لیدنه...

ادامه در صفحه۳

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د ۳۰ تنه کارکوونکو لپاره د بېړنیو حالاتو پر وړاندې د ځواب وینې درې ورځنی روزنیز ورکشاپ ترسره شو



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د هستوګنې لپاره د آغاخان موسسې (AKAH) په مالي او تخنیکی ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۴ نېټه د دې ادارې د ۳۰ تنه کارکوونکو لپاره د بېړنیو حالاتو پر وړاندې ...

ادامه در صفحه۲

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د میشن‌اېسټ موسسې تر منځ د شپږ سوه شپږ اتیا زره او اووه سوه څلور دېرش (۶۸۶,۷۳۴) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د میشن‌اېسټ نړیوالې موسسې د افغانستان د دفتر له مسؤل محترم سبراتادی سره د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۳ نېټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.
په دې غونډه کې ترابی صاحب د یادې موسسې د تېرو فعالیتونو قدردانی وکړه او ټینګار یې وکړ، چې موسسې باید د بشری مرستو د دوام تر څنګ، په تدریجی ډول د دغو مرستو بڼه په بنسټیزو پروژو بدله کړی. نوموړی د خلکو د اړتیاوو کچې په یادولو سره د دې بهیر پر چټکتیا ټینګار وکړ او د دې پروسې د شفافیت غوښتنه یې هم وکړه.
ورپسې ښاغلی سبراتادی د دې لیدنې لپاره د وخت د برابرېدو له امله خوښی څرګنده کړه او د یادې پروژې په اړه یې معلومات وړاندې کړل. نوموړی وویل چې د دې پروژې په چوکاټ کې به د تخار ولایت په درېیو ولسوالیو کې د زیانمنو خلکو لپاره د کورونو د جوړولو او د ترمیم په موخه نغدی مرستې برابرې شی.
په پای کې د دواړو خواوو تر منځ ټوټال د ۶۸۶,۷۳۴ (شپږ سوه شپږ اتیا زره او اووه سوه څلور دېرش) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه، چې ټاکل شوې ده د تخار ولایت په فرخار، چال او اشکمش ولسوالیو کې به ۲۰۰ کورنیو ته د کورونو د ترمیم په موخه او ۱۸۰ کورنیو ته د کورونو د جوړولو په موخه نغدی مرستې ووېشل شی. همدارنګه هغو کورنیو ته چې کورونه یې په جزوی ډول ویجاړ شوی، هرې کورنۍ ته به د ساختمانی کار وسایلو د اخیستو لپاره ۵۰ ډالر وېشل کېږی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د ۳۰ تنه کارکوونکو لپاره د بېړنیو حالاتو پر وړاندې د ځواب وینې درې ورځنی روزنیز ورکشاپ ترسره شو



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د هستوګنې لپاره د آغاخان موسسې (AKAH) په مالی او تخنیکی ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۴ نېټه د دې ادارې د ۳۰ تنه کارکوونکو لپاره د بېړنیو حالاتو پر وړاندې د ځواب وینې درې ورځنی روزنیز ورکشاپ ترسره کړ.
له پېښوسره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د دې ورکشاپ د پای په مراسمو کې ګډون وکړ او د دغه ورکشاپ پر اهمیت یې خبرې وکړې او ویې ویل چې په هېواد کې د طبیعی پېښو پر مهال د بېړنی حالت د مدیریت لپاره دا ډول روزنیز ورکشاپونه د کارکوونکو د وړتیاوو په لوړولو کې مهم رول لوبوی، نوموړی زیاته کړه چې، د دغه ورکشاپ لپاره زموږ ادارې ۳۰ تنه تخنیکی کارکوونکی ټاکل شوی وو، چې د درېو ورځو په موده کې یې د طبیعی پېښو او بېړنیو حالاتو پر مهال زیانمنو ته د رسېدنې لپاره مهم موضوعات په عملی بڼه زده کړل، چې په راتلونکې کې به د بېړنیو حالاتو د مدیریت لپاره د همدې تخنیکی ټیم له مهارتونو څخه ګټه اخیستل کېږی.
محترم ترابی صاحب زیاته کړه، چې کومو کارکوونکو چې په دې ورکشاپ کې

برخه اخیستې ده د هغوی لپاره به د نورو روزنیزو پروګرامونو زمینه هم برابره کړو، هغه له کارکوونکو وغوښتل چې د افغانستان د ولس لپاره خپل کارونه په اخلاص او ژمنتیا سره ترسره کړي. همدارنګه هغه د هستوګنې لپاره د آغا خان موسسې له همکاریو څخه هم د دې ورکشاپ د ترسره کولو په برخه کې له همکاریو څخه مننه وکړه او په نورو مهمو برخو کې یې هم د ادارې د کارکوونکو لپاره د روزنیزو ورکشاپونو ترسره کولو غوښتنه وکړه.

همدا راز، د هستوګنې لپاره د آغاخان موسسې رئیس، محترم راحت الله بیک، په خپلو خبرو کې وویل، چې افغانستان د سیمې په کچه د طبیعي پېښو له امله زیانمن هېواد دی، چې هر کال په افغانستان کې د طبیعي پېښې زیات ځاني او مالي زیانونه اړوي، هغه وویل چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې جوړښت ته په کتو د طبیعي پېښو پر وړاندې ستاسې رول ډېر مهم دی او ستاسو کارونه په مستقیم او غیرمستقیم ډول د خلکو پر ژوند اغېز لري.

محترم راحت الله بیک وویل، چې د تېرو دریو ورځو ورکشاپ د هستوګنې لپاره د آغاخان موسسې لخوا هڅه وه چې خپلې تجربې او معلومات له تاسو سره شریک کړو او د دې ورکشاپ موخه دا وه چې د دواړو ادارو کارکوونکي یو له بل څخه زدکړه وکړي او له نړیوالو پرمختللی روزونکی له تجربو او معلوماتو څخه برخمن شي.

هغه له محترم ترابي صاحب څخه ځانګړې مننه وکړه چې زموږ له ادارې سره یې تل په هره برخه کې همکاری او ملاتړ کړی دی او هغه نه یوازې یو ستر دیني عالم بلکه یو ښه رهبر هم دی.

د غونډې په پای کې کارکوونکو ته تصدیق نامې ووېشل شوې او غونډه په دعا سره پای ته ورسېده.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د میدان وردګ ولایت په نرخ ولسوالۍ کې له سېلاب‌ځپلو سیمو څخه لیدنه وکړه او له زیانمنو سره یې خواخوږي څرګنده کړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۴ نېټه د میدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالۍ د ځینزیو درې او عمرخېل سېلاب‌ځپلو سیمو څخه لیدنه وکړه. دا لیدنه د وروستیو سېلابونو د وضعیت د ارزونې، د زیانونو د کچې د معلومولو او له زیانمنو سره د خواخوږۍ د څرګندولو په موخه ترسره شوه.

په دې سفر کې چې د اطلاعاتو او نشراتو رئیس, محترم حافظ محمد یوسف حماد او د میدان وردګ له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ‌رئیس, محترم مولوی فیض‌الله جلالی د ترابي صاحب ملتیا کوله, د سېلابونو له امله له ویجاړو شویو سیمو، زیان‌منو کرنیزو ځمکو او ویجاړ شویو زیربناوو څخه لیدنه وکړه او له خلکو سره یې مخامخ خبرې وکړې او د هغوی ستونزې یې واورېدې.

الحاج ملا نورالدین ترابي د زیانمنو کورنیو سره د خواخوږۍ ترڅنګ هغوی صبر او حوصلې ته وهڅول، او ډاډ یې ورکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ‌ملي ادارې د مرستندویو بنسټونو په همکارۍ د ارزونې او د مرستې رسونې لړۍ سمدلاسه پیل کړې.

نوموړي همداراز د وقایوي پروژو د پلي کولو پر اغېزمنتیا ټینګار وکړ او ژمنه یې وکړه چې د سېلابونو د رسوباتو له امله د بندو سړکونو او د سیندونو د لارو د پاکولو لپاره به لازم اقدامات ترسره شي.

د یادونې وړ ده، چې نن د سېلاب‌ځپلو سره د مرستې په موخه د میدان وردګ ولایت څخه دوه لارۍ خوراکي توکي نرخ ولسوالۍ ته انتقال شوي دي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله په لارښونه د لوګر ولایت سېلاب ځپلو سیمو څخه لیدنه وکړه او زیانمنو ته د رسېدنې لپاره یې د مرستو پر برابرولو ټینګار وکړ



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د دې ادارې د اطلاعاتو او نشراتو له رئیس، محترم حافظ محمد یوسف حماد سره یو ځای، د وروستیو سېلابونو له امله د زیانمنو خلکو د وضعیت د ارزونې په موخه د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۵ نېټه لوګر ولایت ته سفر وکړ.

په دې سفر کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم قاری نورالله محمود او ځایي مسؤلینو سره یو ځای، د یاد ولایت په مرکز کې د هارون‌خېلو او سرفی زیانمنو کلیو څخه لیدنه وکړه. د ادارې سرپرست، د سیمې له اوسېدونکو سره په لیدنه کې د سېلابونو له امله زیانمنو کورنیو سره خپله غمشریکی او خواخوږی څرګنده کړه او د هغوی ستونزې، اړتیاوې او وړاندیزونه یې له نږدې واورېدل.

محترم ترابی صاحب، د خلکو د راپورونو او نظرونو له اورېدو وروسته، د ولایت مسؤلینو ته لارښوونه وکړه چې ژر تر ژره زیانمنو خلکو ته د رسېدنې، د زیانونو په کره توګه د ارزونې او د بېړنیو مرستو د رسولو په برخه کې اړین ګامونه واخلی.

همدارنګه، د ادارې سرپرست د سرفی کلی د سېلاب د لارې څخه هم لیدنه وکړه او له خلکو سره یې خبرې وکړې.

په پای کې محترم ملا نورالدین ترابی ټینګار وکړ چې د طبیعی پېښو له زیانمنو شویو کسانو سره مرسته، د خطرونو اغېزمن مدیریت، او د لا زیاتو زیانونو د مخنیوی لپاره د سرچینو برابرول له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې له مهمو لومړیتوبونو څخه دی.

ورته مهال، له پېښو سره د مبارزی امادګی ملی اداری سرپرست، الحاج ملا نورالدین ترابی په لوګر ولایت کې د یو میلیون افغانیو په ارزښت یوه بېړنۍ وقایوی پروژه هم منظوره کړه.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ژغورنې نړیوالې کمېټې تر منځ د درې سوه، یو دېرش زره او څلور سوه او نه ویشت (۳۳۱,۴۲۹) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د ژغورنې نړیوالې کمېټې له سرپرست؛ محمد عمیر احمر سره د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۶ نېټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

په پیل کې ترابی صاحب د یادې کمېټې په مخکینیو همکاریو خبرې وکړې او مستحقو خلکو ته د مرستو د کچې د زیاتوالی په موخه یې له موسساتو سره د اړیکو په قوی کولو ټینګار وکړ او همدارنګه نوموړی زیاته کړه، چې د مرستو بستې باید دومره کوچنۍ نه وی چې د ترلاسه کوونکو د کرایې او نورو مصارفو څخه د هغې ارزښت کم وی.

ورپسې، د ژغورنې نړیوالې کمېټې سرپرست؛ محترم محمد عمیر احمر، له یادې کمېټې سره د دې ادارې د همکاریو په پار د قدردانی کولو ترڅنګ، د خپلې تطبیقېدونکې پروژې په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل، چې موږ به د دې تفاهمنامې له مخې د ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو په همکاری، په څلورو ولایتونو کې مستحقو وګړو ته د خوراکی توکو د برابرولو په موخه نغدی مرستې ووېشو.

د یادونې وړ ده، چې په پای کې د دواړو بنسټونو تر منځ ټولټال د درې سوه، یو دېرش زره او څلور سوه او نه ویشت (۳۳۱,۴۲۹) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه، چې له مخې به یې په دوو پړاوونو کې د خوست ولایت ۶۰۸ کورنیو، د لوګر ولایت ۶۶۴ کورنیو او د بامیان ولایت ۸۱۲ کورنیو هرې یوې ته د خوراکی توکو د برابرولو په موخه ۸۰ ډالر ووېشل شي او همدارنګه، د کندز ولایت ۴۶۶ کورنیو ته به هم په څلورو قسطونو کې، هرې یوې کورنۍ ته د خوراکی توکو د برابرولو په موخه ۱۶۰ ډالر ووېشل شي.

## له پېښو سره د مبارزې ملي ادارې سرپرست د نړیوال سور صلیب فدراسیون د آسیا زون له رییس سره وکتل او خبرې اترې يې وکړې



له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ملی ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، په خپل کاری دفتر کې د نړیوال سور فدراسیون د آسیا زون له رییس، ښاغلي الکساندر متیو، په افغانستان کې د فدراسیون نوی رییس، سمع فخوری او د تشریفاتو له لوی مسؤل، عبد الراشد حمیم سره د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۶ نېټه وکتل او د طبیعی پېښو د خطرونو د مدیریت، زیانمنو شویو ته د رسېدنې او په اجباری توګه راستنېدونکو کډوالو ته د خدماتو د رسولو په اړه يې د ګډو همکاریو په هکله خبرې وکړې.

ښاغلی ترابی صاحب، راغلو مېلمنو ته د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ، اړمنو او زیانمنو شویو ته د رسېدنې په برخه کې د نړیوال سور صلیب فدراسیون د کارونو ستاینه وکړه او زیاته یې کړه چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره چمتو ده، چې ګډو همکاریو ته پراختیا ورکړي. هغه همدارنګه له ګاونډیو هېوادونو څخه د راستنېدونکو کډوالو په اړه هم خبرې وکړې او ویې ویل، چې موږ په تورخم کې د راستنېدونکو لپاره یو معیاری پنډغالی جوړ کړ اوس مو تخنیکی ټیمونه د هرات ولایت اسلام قلعه او نیمروز ته ولېږل، ترڅو په هرات او نیمروز کې هم د تورخم په څېر منظم معیاری پنډغالی جوړ کړو او د ایران څخه د راستانه شویو کډوالو لپاره ښه خدمات ترسره کړو.

له بلې خوا، د نړیوال سور صلیب فدراسیون د آسیا زون رییس، ښاغلي الکساندر، د ادارې د سرپرست د اغېزمنې سرپرستۍ څخه د قدردانۍ تر څنګ وویل، چې موږ ستاسو کړنې تعقیبوو، چې د ستاینې وړ دی.

هغه وویل، چې نړیوال سور صلیب فدراسیون د اسلام قلعه د مرز کډوالو ته د رسېدنې د هڅو ترڅنګ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سره په ځو نورو برخو لکه، د پېښو د خطرونو د ارزونې او څېړنې، د اقلیمی بدلونونو د اغېزو د کمولو او په بېړنیو حالاتو کې د خدماتو د وړاندې کولو د وخت په زیاتوالی کې هم په ګډه کار وکړی. هغه همدارنګه زیاته کړه، کله چې موږ له مرسته کوونکو هېوادونو او ډونرانو سره ناستې ولرو له هغوی څخه غواړو، چې په افغانستان کې د لنډ وخت مرستې د زیات وخت په مرستو بانديې واړوی.

د ناستې په پای کې، دواړو لوریو راستنېدونکو او د زیانمنو خلکو اړتیاوو ته د اغېزمنې رسېدنې په موخه د اړیکو او همکاریو پر پیاوړې کولو ټینګار وکړ.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې په نیمروز ولایت کې د اجباری راستنېدونکو لپاره د لنډمهاله هستوګنیز معیاری پنډغالي جوړولو چارې پیل کړی



د دې ادارې سرپرست, د محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د لارښوونې پر بنسټ، په نیمروز ولایت کې د اجباری راستنېدونکو د منلو او لنډمهاله هستوګنې لپاره د یو معیاری او مجهز پنډغالی د جوړولو چارې د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۶ نېټه پیل کړې.

یاد پنډغالی د پل ابریشم په سیمه کې موقعیت لری او د انسانی معیارونو او د اجباری راستنېدونکو بنسټیزو اړتیاوو په پام کې نیولو سره پلان شوی دی چې پکې به د اړتیا وړ اساسی خدمات لکه تشناب، حمام، د څښاک پاکې اوبه، برېښنا، جومات ، کلینک او نور لومړنی اسانتیاوې برابرې شی.

دا پنډ غالی به د تورخم د کیمپ په ډول جوړیږی ټول هغه سهولتونه چی د تورخم په کیمپ کی وجود لری هغه به دلته هم ترسره کیږی ترڅو کډوالو ته د هوساینې او سکون زمینه برابره شی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست په کابل کې مېشت د جاپان له سفیر سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د افغانستان لپاره د جاپان له محترم سفیر ښاغلی تاکایوشی کورای سره، د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۷ نېټه د دې ادارې په انګړ کې وکتل او خبرې یې وکړې.
په دې لیدنه کې دواړو لوریو د طبیعی پېښو د مدیریت، د ادارې د تخنیکی او عملیاتی ظرفیتونو د لوړولو او د طبیعی پېښو له امله د زیانمنو لپاره د بشری مرستو د برابرولو په برخه کې د دوه اړخیزو همکاریو د پراخولو په اړه بحث او نظرونه تبادله کړل.
له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست, د افغانستان له خلکو سره د جاپان د دوامدارو همکاریو او مرستو څخه مننه وکړه او ټینګار یې وکړ چې دغه ملاتړونه، په ځانګړی ډول د پېښو د خطر مدیریت، بېړنیو وسایلو د برابرولو او د ادارې کارکوونکو ته د تخصصی روزنو برابرولو په برخه کې ډېر مهم دی.
له بل پلوه، د جاپان سفیر هم له افغانو مرستندویو بنسټونو سره د همکاریو د دوام ژمنه وکړه او ویې ویل چې جاپان تل د افغانستان د خلکو ترڅنګ ولاړ دی او هڅه کوی چې د اغېزناکه او همغږې مرستو له لارې د کورنیو بنسټونو ظرفیتونه د پېښو په وړاندې د غبرګون ښودلو په برخه کې لوړ کړی.
دا لیدنه په یو دوستانه او مثبت چاپېریال کې ترسره شوه او دواړو خواوو د دوامدارو اړیکو او همکاریو پر پیاوړتیا ټینګار وکړ.

## په نیمروز ولایت کې د اجباری کډوالو لپاره د معیاری پنډغالي جوړولو چارې روانې دی




له پېښو سره د مبارزې ملی ادارې د سرپرست, محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د لارښوونې له مخې، د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۷ نېټه په نیمروز ولایت کې د اجباری کډوالو د منلو او موقتی هستوګنې لپاره د یوه معیاری او مجهز پنډغالی د جوړولو چارې په جدی توګه روانې دی.
یاد پنډغالی چې د پل ابریشم په سیمه کې موقعیت لری، د انسانی معیارونو او د کډوالو د اساسی اړتیاوو په پام کې نیولو سره طرحه شوی دی. دا مهال، د پنډغالی د بنسټیزو زیربناوو لکه تشنابونو، حمامونو، د څښاک پاکو اوبو، برېښنایی تأسیساتو، جومات، کلینیک او نورو لومړنیو اسانتیاوو د جوړولو بهیر دوام لری.
له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره هڅه کوی چې دا پنډغالی هم د تورخم د پنډغالی په څېر له ټولو اړینو اسانتیاوو برخمن وی، ترڅو اجباری کډوالو ته د یو لنډمهاله خو آرامه او انسانی ژوند زمینه برابره شی.

## په نیمروز ولایت کې د اجباری اېستل شویو راستنېدونکو لپاره معیاری پنډغالی د جوړېدو په حال کې دی




د اجباری راستنېدونکو وضعیت ته د اغېزناکې رسېدنې په موخه، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د سرپرست, محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د لارښوونې پر بنسټ، د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۸ نېټه په نیمروز ولایت کې د یو معیاری او مجهز پنډغالی د جوړولو چارې پیل شوې دی او دا مهال په چټکۍ سره رواني دی.

یاد پنډغالی چې د پل ابریشم په سیمه کې جوړېږی، د هغو کډوالو د لنډمهاله هستوګنې لپاره پلان شوی چې له بهر نه راستانه شوې دی، او د هغوی لپاره ټولې لومړنۍ اړتیاوې په پام کې پکښې نیول شوې دی.

اوسمهال، د تشنابونو، حمامونو، د څښاک پاکو اوبو، برېښنايي تأسیساتو، کلینیک، جومات او نورو لومړنیو خدماتو د جوړولو چارې هممهاله دوام لری.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره هڅه کوی چې دا پنډغالی هم د تورخم د پنډغالی په څېر، معیاری او هر اړخیزه تجهیز شی، ترڅو راستنېدونکو ته مناسب، امن او انسانی شرایط برابر شی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست، د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اداری ودانۍ د جوړېدو له بهیر څخه لیدنه وکړه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست, محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۸ نېټه د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اداری ودانۍ د جوړېدو او د کار د پرمختګ له بهیر څخه لیدنه او څارنه وکړه.

په دې لیدنه کې، د پروژې مسؤلینو د ساختمانی چارو د پړاوونو، د ساختمانی موادو د کیفیت او د پروژې د مهالوېش په اړه بشپړ توضیحات وړاندې کړل.

همداراز، ترابی صاحب د ودانۍ بېلابېلې برخې وکتلې او د تخنیکی اصولو پر رعایت کولو، د کار شفافیت او په ټاکلی وخت د پروژې پر پلی کولو یې ټینګار وکړ.

د ادارې سرپرست د انجنیرانو، کارګرانو او سیمه‌ییزو چارواکو له هڅو مننه وکړه او ډاډ یې ورکړ چې د کار بهیر به د مرکزی ادارې له لوری په جدی توګه تعقیب او څارل کېږی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداری غونډه ترسره شوه

د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې اوونیزه اداری غونډه د دې ادارې د سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی په مشرۍ او د مرکزی رئیسانو په ګډون د دې ادارې په انګړ کې د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۶ نېټه ترسره شوه.

غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

وروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.

د غونډې په پای کې  داجنډا پر ټولو موضاعوتو باندی لازم تصمیمونه ونیول سول.

## د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۸۲ اړمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د ناروې کمېټې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې کمېټې په مالی ملاتړ، د دې ولایت د برمل ولسوالۍ اړوند ۲۸۲ اړمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۲ نېټه د کورنو جوړولو او د ترمیم لپاره د لومړی قسط نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې له یادې جملې ۶۸ کورنیو هرې یوې ته د مسؤلینو په شتون کې د نوی کور د جوړولو لپاره ۳۴,۶۰۰ افغانۍ او ۲۱۴ نورو کورنیو هرې یوې ته د کور د ترمیم لپاره ۲۷,۹۵۰ افغانۍ وویشل شوې، چې ټولټال ۸,۳۳۴,۱۰۰ (۸ میلیونه ۳۳۴ زره او ۱۰۰) افغانۍ نغدی پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.




## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان برای ۱۰۰ خانواده عودت‌کننده اجباری کمک های غذایی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان، پس از انجام سروی، برای ۱۰۰ خانواده‌ای که به‌گونه اجباری از کشورهای همسایه برگشت داده شده‌اند، بتاریخ ۲ محرم الحرام سال ۱۴۴۷ ه ق کمک‌های غذایی توزیع نمود.

در این روند، در حضور مسئولین، برای هر خانواده ۱۰۰ کیلو آرد و ۵۰ کیلو برنج توزیع گردید.

## د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست سېلاب ځپلو کورنیو ته د ۳۰۰ کورونو کیلي وویشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د هستوګنې لپاره د آغا خان موسسې (AKAH) ترمنځ لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, د یادې موسسې په همکارۍ او د ملګرو ملتونو د پرمختیایی پروګرامونو د دفتر (UNDP) په مالی ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۲ نېټه د سېلاب ځپلو کورنیو لپاره ۳۰۰ نوی کورونه جوړ کړل او مستحقو کورنیو ته یې وویشل.

له دې جملې څخه، ۱۴ کورونه په دهنه غوری ولسوالۍ، ۱۳۳ کورونه په بغلان مرکزی، او ۱۵۳ کورونه په برکه ولسوالۍ کې جوړ او مستحقو کورنیو ته وویشل شول.

د یادونې وړ ده, چې هر کور د درېنیم متره مربع په مساحت دوه هستوګنیزې خونې, یو دهلیز او یو تشناب لری، او د هرې کورنۍ لپاره یو کور ځانګړی شوی دی.

د هر کور د جوړولو لګښت ۲۶۰۰ ډالر دی، چې د دې پروژې ټول لګښت ۷۸۰,۰۰۰ ( ۷۸۰ زره) ډالرو ته رسېږی.

دا اقدام هغو کورنیو ته د مرستې رسولو په موخه ترسره شوی، چې د ۱۴۰۳ کال د غویی میاشتې په ۲۱مه نېټه د ویجاړوونکو سېلابونو له امله یې کورونه په بشپړه توګه ویجاړ شوی وو.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۰۰ بېوزله کورنیو ته خوراکی او غیر خوراکی مرستې ووېشلې

د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, د دې ولایت د سرخرود ولسوالۍ اړوند په شیخ مصری پنډغالی کې ۳۰۰ بېوزله کورنیو ته د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۲ نېټه خوراکی او غیر خوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، له سروې وروسته د مسؤلینو په شتون کې, هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو غنم او یو د یونسیف روغتیایې کیټ ووېشل شو.

مرسته اخیستونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې څخه زیاتمنو هېوادوالو ته پر وخت د مرستې رسونې په پار مننه او قدردانی وکړه.



## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کرنیزو ځمکو د خړوبولو د عمومي ویالې د پاکولو چارې پای ته ورسولې



د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت د ولایت مقام د حکم له مخې، د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۳ نېټه د دې ولایت د مرکز اړوند د پاچا جوی په نوم د کرنیزو ځمکو د خړوبولو ویاله، چې له نور ګبری کلی څخه پیل او بیا تر چهاردهی کلی پورې رسېږي له چکړو، کثافاتو او نورو اضافي توکو له درې ورځو مسلسل کار کولو څخه وروسته پاکه کړه.

د یادونې وړ ده، چې د یادو کلیو اوسېدونکو، له اړوندو مسؤلینو څخه مننه وکړه او زیاته یې کړه، چې په دې کړنې سره به د دوی کرنیزې ځمکې له شته ننګونو څخه بچ او په آسانۍ سره به خړوبې شي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان برای ۲۹۷۲ خانواده آسیب‌پذیر مساعدت نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه اکتید، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان با حمایت مالی مؤسسه متذکره، برای ۲۹۷۲ خانواده آسیب‌پذیر در ولسوالی‌های یاوان، کوهستان، ارگو و درایم بتاریخ ۳ محرم الحرام سال ۱۴۴۷ ه ق مساعدت نقدی توزیع نمود.

در این پروسه با حضور مسوولان، پروژه تحت نام "ارائه کمک‌های نقدی جهت تهیه مواد غذایی به خانواده‌های آسیب‌پذیر و محروم" به هر خانواده مبلغ ۲,۹۸۰ افغانی توزیع گردید که در مجموع مبلغ ۸,۸۵۶,۵۶۰ (هشت میلیون و هشت‌صد و پنجاه‌وشش‌هزار و پنج‌صد و شصت) افغانی برای این تعداد خانواده‌ها اختصاص یافته بود.

## د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۴۵ اړمنو کورنیو ته ۶،۰۳۹،۳۵۰ افغانۍ ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اکتیډ موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ ، د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۳ نېټه د دې ولایت په خواجه موسی ولسوالۍ کې ۵۴۵ زیانمنو شویو کورنیو ته، چې زیانمنو، معلولینو، معیوبینو، بې سرپرستو، کونډو ښځو او زړو کسانو پکې شتون درلود نغدي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، له سروې وروسته د مسؤلینو په شتون کې، په دوو کټګوریو کې، په داسې ډول چې ۱۴۵ کورنیو هرې یوې ته ۱۲،۶۳۰ افغانۍ او ۴۰۰ کورنیو هرې یوې کورنۍ ته ۱۰،۵۲۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره، شپږ میلیونه، آته دېرش زره، درې سوه او پنځوس (۶،۰۳۹،۳۵۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۰۰ زیانمنوشویو او بیوزله کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د درمان مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د دې ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې، ۲۰۰ زیانمنو شویو او بیوزله کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۴ نېټه د خوراکي توکو مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۵ لېتره غوړي، ۲۰ کیلو وریجې، ۱.۲ کیلو چای، ۲.۵ کیلو لوبیا او ۲ کیلو بوره ووېشل شوه.
د یادونې وړده، چې د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست محترم رئیس؛ قاری خیر محمد غازی او د یاد ولایت د اقتصاد محترم رئیس؛ مولوی جان محمد حامد، له یادې مؤسسې څخه اړمنو او زیانمنو وګړو ته د مرستو رسولو په پار مننه وکړه او ډاډ یې ورکړ، چې دوی به له موسسو سره هر ډول همکارۍ کوی، په ورستیو کې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو له اړوندو مسؤلینو څخه مننه وکړه او د ورته نورو مرستو غوښتنه یې وکړه.

## د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۴ زیانمنو کورنیو ته خوراکي، غیرخوراکي او نغدي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د کنسرن موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، هغو ۱۴ کورنیو ته چې په راغستان ولسوالۍ کې د سیلابونو او سختو بارانونو له امله زیانمنې شوې وې، د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۴ نېټه خوراکي، غیرخوراکي او نغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې له سروې وروسته د مسؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۲۰۰ کیلو اوړه، ۱۸.۲ لیتره غوړي، ۲۵ کیلو دال، ۲ کیلو مالګه، ۱.۵ کیلو پلمپی، ۳ کیلو جواری، ۲.۱ کیلو بسکېټ، د غیرخوراکي توکو ۱ کېټ او ۱۱،۱۱۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال ۱۵۵،۵۴۰ (۱۵۵ زره او ۵۴۰) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان برای ۱۴۰۶ خانواده نیازمند کمک نقدی توزیع کرد



براساس تفاهم‌نامه‌ای که میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه اکشن‌اید (Action Aid) به امضا رسیده است، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان، با حمایت مالی این مؤسسه، پس از انجام سروی، بتاریخ ۴ محرم الحرام سال ۱۴۴۷ ه ق برای ۱۴۰۶ خانواده نیازمند در مرکز آن ولایت کمک نقدی توزیع نمود.
در این روند، به هر خانواده در حضور مسئولین مبلغ ۳،۰۶۰ افغانی توزیع گردید که در مجموع مبلغ ۴،۳۰۲،۳۶۰ (چهار میلیون و سه صد و دو هزار و سه‌صد و شصت) افغانی برای این تعداد خانواده‌ها اختصاص داده شده بود.
قابل یادآوری است که برای این خانواده‌ها در ماه آینده نیز کمک های نقدی دیگری توزیع خواهد شد.

## د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست نرخ ولسوالۍ ته د خوراکي توکو دوه لارۍ ولېږدولې





د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د دې ولایت د نرخ ولسوالۍ اړوند د وروستیو بارانونو او سېلابونو له امله زیانمنو شویو کورنیو ته د وېش په موخه د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۴ نېټه د خوراکي توکو دوه لارۍ واستولې.
د یادونې وړ ده، چې دا مرستې به زیانمنو شویو کورنیو ته د بیړنیو مرستو تر سرلیک لاندې ووېشل شي، چې سروې یې تېره ورځ ترسره شوې ده.

## د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۹۰۷ اجباري راستنېدونکو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې




د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، له ګاونډیو هېوادونو څخه په اجباري توګه ۹۰۷ را اېستل شویو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۴ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، یوه بوجۍ ۵۰ کیلویي اوړه او یوه بوجۍ ۲۵ کیلویي وریجې ووېشل شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب برای ۵۰۰ خانواده عودت‌کننده اجباری، کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب، پس از انجام سروی، برای ۵۰۰ خانواده‌ای که به گونه اجباری از کشورهای همسایه بازگردانده شده بودند، بتاریخ ۴ محرم الحرام سال ۱۴۴۷ ه ق کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع نمود.
در این روند، به هر خانواده در حضور مسئولین، یک بوری ۵۰ کیلویی آرد، یک بوری ۲۵ کیلویی برنج و دو تخته کمپل توزیع گردید.

## د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د وروستیو سېلابونو له امله ۱۲۵ زیانمنو کورنیو ته بېړنۍ مرستې ووېشلې



د لوګر ولایت په مرکز پل علم او محمد آغه ولسوالۍ کې د وروستیو سېلابونو په راتلو سره، د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲۵ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۵ نېټه د خوراکي او غیرخوراکي توکو بېړنۍمرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، د یاد ولایت والي او سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې۴۸ کورنیو ته چې کورونه یې په بشپړه توګه ویجاړ شوي وو، هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو غنم، ۵ لیټره غوړي، یوه مکمل الاسباب خیمه، ۶ تختې کمپلې، یو کارتن صابون او د یوبار مصرف لوښي، او ۷۷ کورنیو ته چې کورونه یې په جزوي ډول ویجاړ شوي وو، هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو غنم، ۵ تختې کمپلې او یو کارتن صابون ووېشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت جوزجان برای ۳۳۹ خانواده عودت‌کننده مواد خوراکی توزیع نمود

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت جوزجان، برای ۳۳۹ خانواده نیازمن و عودت‌کننده که به گونه اجباری اخراج شده بودند، بعد از سروی بتاریخ ۶ محرم الحرام سال ۱۴۴۷ ه ق کمک‌های خوراکی توزیع کرد.

در این پروسه با حضور مسوولان، به هر خانواده یک بوری آرد ۵۰ کیلویی و یک بوری برنج ۲۵ کیلویی توزیع گردید.



## د غزنی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲۶ اجباری راستنېدونکو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



د غزنی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، له ګاونډیو هېوادونو څخه په اجباری توګه را ایستل شویو ۱۲۶ کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۶ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۱۰۰ کیلو غنم او ۲۵ کیلو وریجې ووېشل شوې.

## د باميان ولايت د دولت آباد ملا غلام کلي کې د استنادی ديوال د جوړولو پروژه ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه




د باميان ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست، د دې ولايت د مرکز اړوند د دولت آباد ملا غلام په کلي کې د يو مليون افغانيو په ارزښت د استنادی ديوال د جوړولو کار بشپړ او د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۶ نېټه په رسمی ډول سره ګټې اخيستنې ته وسپارل شو.

دا استنادی ديوال د ۱۸۲ مترو په اوږدوالی د باميان ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست د رييس؛ مولوی محمد طاهر شاکر، د ولايت مقام د پلاوی چې د ښار او کور جوړونې رياست مسؤلينو يکې شتون درلود، د اقتصاد رياست، مستوفيت، ښاروالۍ او د نورو اړوندو ادارو په شتون کې، پرانيستل او ګټې اخيستنې ته وسپارل شو.

د يادونې وړ ده، چې دا پروژه د عاليقدر امير المؤمنين حفظه الله د لارښوونې له مخې د طبيعی پېښو له امله د رامنځته کېدونکو خطرونو د کمولو په موخه، يو ميليون افغانۍ د وقايوی پروژو د تطبيقولو لپاره په هر ولايت کې ځانګړې شوې دی، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره يې د سروې له ترسره کولو او د بيړنی حالت له پېژندلو وروسته، دا پروژې د هېواد په کچه پلې کوی.

د دولت آباد ملا غلام کلی، هر کال د درنو سېلابونو له امله سخت زيانونه وينی، چې د هستوګنې د کورونو، د کرنيزو ځمکو او د باميان ولايت د روغتون د عمومی سړک په اوږدو کې د ويجاړتيا سبب ګرځی، چې له همدې امله د باميان ولايت د ولايت مقام او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست، له اړينو څېړنو څخه وروسته دا پروژه د يوې اساسی اړتيا په عنوان تثبيت او پلې کړه.

د دې پروژې د جوړولو کار د باميان تمدن د ساختمانی او سړک جوړونې شرکت لخوا، چې د داوطلبۍ په قانونی لړۍ کې ګټونکی پېژندل شوی وو په معياری ډول سره بشپړه او له وروستنی تأييد او ارزونې وروسته، ګټې اخيستنې ته وسپارل شو.

## د ميدان وردګ ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست ۳۸ زيانمنو کورنيو ته خوراکی, غيرخوراکی او نغدی مرستې ووېشلې




د ميدان وردګ ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست, د ياد ولايت په نرخ ولسوالۍ کې د وروستيو ويجاړوونکو سيلابونو له امله ۳۸ زيانمنو کورنيو ته د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۶ نېټه خوراکی, غيرخوراکی او نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې له سروې وروسته, له يادې جملې ۳۳ کورنيو هرې يوې ته دوه بورۍ ۵۰ کيلويی غنم، دوه بورۍ ۲۵ کيلويی وريجې، يو باب خيمه، دوه عدده سطلونه، يو عدد د پخلنځی کېټ، شل کلچې د لاس مينځلو صابون، دوه جوړه څپلکې، د ماشومانو د البسې يو کېټ، يو عدد د غذا خورۍ سېټ، څلور عدد د اوبو بوشکې، يو تخته ترپال، يو ثوب مختلفو النوعه البسه(چريکی بسترې)، کلورين او د حفظه الصحې بروشر ووېشل شول.

همدا راز, د ميدان وردګ ولايت اړوند د نرخ ولسوالی د چين زائی کلی د يو تن شهيد ورثه ته, ۲۰,۰۰۰ افغانۍ (شل زره) او څلور تنه ټپيانو هر يو ته ۱۰,۰۰۰ (لس زره) افغانۍ ووېشل شوې, چې ټولټال ۶۰,۰۰۰ (شپيته زره) افغانۍ د ياد شمېر کورنيو لپاره ځانګړې شوې وې.

## په لغمان ولایت کې د کرنیزو ځمکو د ړنګېدو په موخه د ځلورو لویو ویالو د پاکولو چارې پیل شوې




د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت د ولایت مقام د حکم له مخې، د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۶ نېټه د دې ولایت په علیشنګ ولسوالۍ کې د کرنیزو ځمکو د ړنګېدو ځلورو لویو ویالو د پاکولو چارې، چې د علیشنګ ولسوالۍ له کنجوړ سیمې څخه پیل او بیا تر مرکز پورې رسېږي، د وروستیو سیلابونو له امله د خاورو او نورو اضافي توکو څخه ډکې شوې وې پیل کړې.
د یادونې وړ ده، چې سیمه ییزو اوسېدونکو د دې کړنې په پار له ولایت مقام او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ له ریاست څخه مننه وکړه.

## د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۹ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې




د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, د یاد ولایت په چک ولسوالۍ کې د وروستیو ویجاړوونکو سیلابونو له امله ۱۹ زیانمنو کورنیو ته چې کورونه یې په نیمه او بشپړه توګه ویجاړ شوي وو, د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۷ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍکې له سروې وروسته, هرې کورنۍ ته دوه بورۍ ۵۰ کیلویي غنم، یوه بورۍ ۲۵ کیلویي وریجې، دوه عدده سطلونه، ۵ تختې کمپلې، ۱۰ کلچې د لاس مینځلو صابون، د ماشومانو د البسې یو کیټ، یو عدد د غذا خورۍ سیټ، یو ثوب مختلف النوعه البسه(چریکی بستره)، کلورین او د حفظه الصحې بروشر ووېشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان برای ۳۵ خانواده متضرر کمک‌های غذایی توزیع کرد




براساس تفاهم‌نامه امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه ARCI و با همکاری تخنیکی سازمان یونیسف، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان پس از انجام سروی، بتاریخ ۶ محرم الحرام سال ۱۴۴۷ ه ق برای ۳۵ خانواده متضرر در ولسوالی‌ها و مرکز آن ولایت مهترلام کمک‌های غذایی توزیع کرد.
در این روند، برای هر خانواده در حضور مسئولان، ۱۰۰ کیلو آرد، ۹.۱ کیلو روغن، ۱ کیلو نمک، ۱۲.۵ کیلو دال، بسکویت و مواد WSB توزیع شد.
قابل یادآوری‌ست که خانواده‌های دریافت‌کننده کمک‌ها از مسئولان ابراز قدردانی کردند و خواهان ادامه چنین کمک‌هایی شدند.

## د بادغیس ولایت په مقر ولسوالۍ کې د ګبیونی دېوال د ترمیم پروژې کار پیل شو




د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله د لارښوونې له مخې، د طبیعي پېښو د خطرونو د کمولو په موخه، د هېواد په هر ولایت کې د وقایوی پروژو د پلی کېدو لپاره یو میلیون افغانۍ ځانګړې شوې دي. په همدې لړ کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۷ نېټه او د بیړنی حالت د تثبیت وروسته، یادې پروژې د هېواد په کچه پلی کوی.

د ګبیونی دېوال د ترمیم دغه پروژه د بادغیس ولایت د مقر ولسوالۍ په دهن توتک سیمه کې، ټولټال د ۷۸۴,۲۰۰ افغانیو په لګښت، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري له لوری، د رسمی مراسمو په ترڅ کې د سیمه ییزو چارواکو په شتون سره پرانیستل شوه.

په یادو مراسمو کې د بادغیس محترم والی، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، د اقتصاد رئیس او د ټولګټو رئیس ګډون کړی او پروژه د محترم والی صاحب له لوری د بنسټ ډېرې په ایښودو سره، په رسمی ډول پیل شوه.

د دې پروژې د پلی کېدو موخه دا ده چې له هستوګنېزو سیمو، کرنیزو ځمکو او په ځانګړی ډول د هغه عمومی سړک څخه ساتنه وشی چې بېلابېلې ولسوالۍ د ولایت له مرکز سره نښلوی. دا ګبیونی دېوال به د سېلابونو، د خاورې له ښوېدو او د نورو طبیعی له خطرونو څخه په مخنیوی کې اغېزناک رول ولوبوی او د سیمې د ترانسپورتی اړیکو د پرې کېدو مخه به ونیسی.

سیمه ییزو چارواکو د دې پروژې د پرانیستې په مراسمو کې د طبیعي پېښو د خطرونو د کمښت، د تګ راتګ د آسانتیا، د بنسټیزو جوړښتونو د پیاوړتیا او د خلکو لپاره د چاپېریالی امنیت د برابرولو په برخه کې د دې پروژې پر اهمیت ټینګار وکړ. هغوی له سیمه ییزو اوسېدونکو څخه هم وغوښتل چې د دې ملی پروژې په ساتنه او پالنه کې جدی همکاری وکړی.

د دهن توتک د ګبیونی دېوال د ترمیم پروژه، د دولتی ادارو ترمنځ د همغږۍ هڅې یو روښانه مثال دی، چې موخه یې د ولسوالیو د بنسټونو پیاوړتیا او د خلکو د ژوند کچې لوړول دی.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر برای ۹۷ خانواده آسیب‌دیده مواد خوراکی توزیع نمود




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر، برای ۹۷ خانواده که از اثر آب‌خیزی دریا و برف‌کوچ در ولسوالی های دره و آبشار آسیب‌دیده بودند، بعد از سروی بتاریخ ۶ محرم الحرام سال ۱۴۴۷ ه ق کمک های خوراکی توزیع کرد.

در این پروسه با حضور مسوولان، برای ۶۲ به هر کدام ۱۰۰ کیلو گندم و برای ۳۵ خانواده آن به هر کدام ۱۵۰ کیلو گندم توزیع گردید.

## د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ٤٧ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې




د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IOM او WFP سازمانونو په همغږۍ، د یاد ولایت په چک او نرخ ولسوالیو کې د وروستیو ویجاړوونکو سیلابونو له امله ٤٧ زیانمنو شویو کورنیو ته، له سروې وروسته د ١٤٤٧ کال د محرم الحرام ٧ نېټه د خوراکي او غیرخوراکي توکو مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مېؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ٢٠٠ کیلو اوړه، ٢٥ کیلو دال، ٢٠ لېټره غوړي، ٢ کیلو مالګه، ٢ کیلو بیسکویټ، ٣ کیلو LNS، ٦ کیلو WSB، ٣ تختې کمپلې، ١ د پخلنځي سیټ، ١ تخته فرش، ١ جارو، ٣ عدده د اوبو بوشکې، ١ د لمریزې برېښنا هنداره او ١٦ کورنیو ته، په پورتنیو مرستو سربېره د IOM سازمان له لورې هرې کورنۍ ته یو باب خېمه هم ووېشل شول.
د یادونې وړ ده، چې د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست؛ رییس، له زیانمنو شویو کورنیو سره خواخوږي څرګنده کړه او ورسره یې د لا نورو مرستو د کولو ژمنه وکړه.

## د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ٦٢٨ بېوزله کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د رازی موسسې ترمنځ د لاسلیک شوې هوکړه لیک له مخې، د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ، د ١٤٤٧ کال د محرم الحرام ٧ نېټه د یاد ولایت په فراه رود او انار دره ولسوالیو کې ٦٢٨ بېوزله کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې, ٣٥٠ کورنیو هرې یوې ته ٥،٥٩٨ افغانۍ او ٢٧٨ کورنیو هرې یوې ته ٥،٦١٦ افغانۍ ووېشل شوې. چې ټولټال ٣،٥٢٠،٥٤٨ (درې میلیونه پنځه سوه شل زره او پنځه سوه اته څلوېښت) افغانۍ نغدي پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر برای ١٣ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی توزیع نمود




براساس تفاهم‌نامه که میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه ARCI امضاشده بود، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر با همکاری تخنیکی مؤسسه متذکره و حمایت مالی صندوق حمایت مالی از کودکان سازمان ملل (یونیسف)، برای ١٣ خانواده آسیب‌دیده از حوادث طبیعی در ولسوالی‌های مختلف آن ولایت بتاریخ ٧ محرم الحرام سال ١٤٤٧ ه ق کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد.
در این پروسه بعد از سروی با حضورمسوولان، به هر خانواده ١٠٠ کیلو آرد، ٩.١ کیلو روغن، ١ کیلو نمک، ١٢.٥ کیلو عدس، ١.٥ کیلو مغزی حلوا، ٣ کیلو مغزی آرد، ٢.١٥ کیلو بیسکویت، یک بسته لوازم ضروری خانواده، یک بسته لباس زمستانی و ٢ تخته کمپل توزیع گردید.

## د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۲ سېلاب ځپلو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د DRC موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۷ نېټه د یاد ولایت په نرخ او چک ولسوالیو کې د وروستیو ویجاړوونکو سیلابونو له امله ۵۲ زیانمنو کورنیو ته چې کورونه یې نیمه او بشپړه توګه ویجاړ شوی وو، نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍکې له سروې وروسته، هرې کورنۍ ته ۹,۷۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال ۵۰۴,۴۰۰ (پنځه سوه څلور زره او څلور سوه) افغانۍ نغدی پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، مولوی فیض الله جلالی وویل، چې د پېښو له امله زیانمنو ته د بېړنیو خوراکی، غیرخوراکی او نغدی مرستو د وېش لړۍ دوام لری او مرستې به پر وخت او عادلانه ډول مستحقو ته ووېشل شي.

**عامه پیغامونه :**

**5. تیز رفتاري د مرګ سبب ګرځي.**

**6. پر یخ شوي سړک باندې په ډېر احتیاط تګ کوئ.**

**7. د باران او واورې اورېدو په وخت کې په ډېر احتیاط تګ کوئ.**

**8. د موټر چلولو په وخت کې د ترافیکي اصولو په پام کې نه نیول ډېر خطرونه رامنځته کوي.**